

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

ليکوال: سيداداويس سادات



# [د محبت زور]

## د يوې دردوونکې مينې کيسه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

## د کتاب پېژندنه

نوم . د محبت زور| ناول

لیکوال . سید ادریس سادات

کمپوز . سید عمران سادات

پښتی ډیزاین . سید ادریس سادات

مرسته . افتخار الله افتخار

د لیکوال شماره . ۰۷۳۱۳۶۳۲۰۱

چاپ کال . ۳ \۱۲\ ۲۰۲۳

چېنل. https://t.me/sadatketabtoon

ګروپ . https://chat.whatsapp.com/KXxowf0dlHRDKR

**په خپل نوم د خپرولو حق یې هېڅوک هم نلري...**

**SA**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ډالۍ

زما ټولو هغو مينوالو ته چې زما هر ناول کيسه نظم شعر او دا ستان لولي.

او خوند ورڅخه اخلي.

او په خاص ډول هغه ورونو ته چې زه يې د فيسبوک او واټساپ په نړۍ کې هم يواځې نه يم پريښی.

او په هر ډول حالت کې يې زما همايه کولو ته کار ويلې.

لومړی ورڅخه مننه کووم او بيا ورته دغه ناول ډالۍ کووم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# زيرې

**که هر ورور زما ليکنې خوښوي.**

**نو سر د نن نه زه په فېسبوک کې خپلې ليکنې نشروم،**

**د ورځې به يوه ليکنه نشروم.**

**هره ورځ يې درسره ضرور تعقيب کړئ.**

**@said adrees sadat**

(c) ketabton.com: The Digital Library



***

د پوهنتون په تالار کی ولاړ وم یو څه شاگردان راغلل، د لاس نه یې ونیوم راساً یې یوې کوټې ته کش کړم.

ویل یې؛

استاذ جانه!

که هرڅه وي.

نن به د هغې دورې کېسه موږ ته کوی، چې تاسې پکې محصل واست.

د ټول پوهنتون لېلېه شاگردان همدې ځای ته راغونډ شوي ؤ.

د شپې اته بجې د ژمي اوږده شپه او د کابل د پوهنتون بې خونده بوي و.

شاگردانو ته مې وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې د شيدو چاى غم وکړي تر څو د کيسې نه لا ډير خوند واخلي.

د محصلينو سره شيدې وې.

هغوي به سهار چاى کې څښلې، بس اشپز خانې ته يې يوړلې او دود پټي يې راتياره کړه.
هغوي راته غوړل شول، او ما په ارامه کيسه ورته شروع کړه:
د شپې يوولس بجې وى لالا مې راته وويل:
زه نو ښه شو ګرانه چې مجلس مو وکړ، ته بيده شه چې سبا به دى انشاءالله پوهنتون شروع کيږي.
لاړم د خوب کوټې ته اودس مې تازه کړ، لمونځ مى اداء کړ.

د خداى نه مې د ښه راتلوونکي غوښتنه وکړه، جاينماز مى قات کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په کرار خپلې بړستنې ته ننوتم د ښه مستقبل سوچونو مې ذهن ډېر مشغولؤه.
هغه ځکه چې زه نوی نوی مېن شوی وم، د نیلم فکرونو مې ذهن بیخي بلې خواته نه پریښود.
ماته داسې فکرونه ذهن ته راتلل، چې ایا زما مینه به زما په قسمت ورسیږي .
او کنه؟
آیا!
زه به خپلو ټولو ارمانونو ته ورسیږم کنه؟
د ژوند نورې لوړې ژورې کندې او کپَرې به مې نور څومره زهیروي، په همدې سوچونو کې همداسې ویده شوی وم...
د سهار مهال وو، مور مې له خوب څخه راپورته کړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ویل یې؛

زویه!

پاڅه لمونځ وکړه او د پوهنتون تګ هم در په غاړه دی.

پاڅېدم!

اودس او لمونځ می اداء کړل.

خدای نه مې بیا د خپل ښه راتلونکي دعا وغوښته.

روان شوم په هغه لار باندې چې ماته هېڅ معلومات نه کیده، چې له دې لارې به خپل هدف ته ورسیږم کنه.

زما اهداف ډیر لوی لوی ؤ.

بیخي لوی-لوی، دومره لوی-لوی،

چې داسې اهداف پخپل ژوند کې ډېر کم خلک لري.

زما لومړی هدف داؤ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې د پوهنتون سره سره یوه ښکلې وظیفه هم ولرم.

ترڅو پلار ته له لاس نيولو څخه خلاص شم.

زه دا مهال د پښتو ادبیاتو پوهنځي ته کامیاب شوی وم.

او د خپل پلار په ذریعه یوی مشهورې رسنۍ ته ورمعرفي شوم؛

ماته به یې د میاشتې څلور زره روپۍ تنخوا راکوله.

خو هر کله چې مې پلار د تنخوا خبره واوریده؛

نو راته یې وویل:

چې څلور زره روپۍ به درته زه درلیږم کنه، ته خپل درسونه ووایه.

په کابل پوهنتون کې ځان لیلیه کړه.

کور ته بیخي تر هغې مه راځه، چې تر څو فارغ شوی نه یې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



***

په وخت مې چای وڅښه او خپل پوهنتون ته روان شوم.

مور په ننګرهار کې اوسيدو، خو زه د کابل پښتو ادبياتو ته کامياب شوی وم.

ما په همدې ورځ د خپلې زړې نيا، مور، پلار او خوېږو ورونو خوېندو سره خدای پاماني وکړه.

هر کله چې د کور څخه راوتم، نو مور مې راته وويل:

ممتازه بچېه!

راشه د دې قرانکريم لاندې درې ځلې تير شه، چې خدای تعالی دې هره لاره رڼا کړي...

که څه هم دا کار زما په زړه نه و، خو بيا مې هم وکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



او د خپل پوهنتون په لور روان شوم، ماته د کور په مخ کې موټر ولاړ ؤ.

په همدې موټر کې کښیناستم، او روان شوم .

ټول د کور غړي مې کور ته ننوتل، خو مور مې کتله چې زما موټر يې تر هغې ځارلو، چې ورڅخه فناء شو.
واقعاً چې مور، مور وي.

ما له لرې ځایه وکتله، چې په سترګو کې يې اوښکې هم ډنډ شوې.

په هر حال زه د کابل په لاره رهي شوم، په لاره کې مې نيلم ته زنګ وواهه.

تر څو د سرک مخې ته راووځي او يو ځای پوهنتون ته ولاړ شو.
نيلم زما د کوچنيوالي ملګرې وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه زما څخه په مکتب کې د لسو کالو په عمر کې جدا شوه، خو ما او هغې هيڅکله هم يو بل هېر نه کړل.

او تر قيامته به هم يو بل هير نکړو.

زما د پلان سره سم نيلم راغله او ما په موټر کې د نيلم پر اوږه سر کيښود.

او تر کابله په ځان پوی نه شوم.

چې وخت ښنګه تير شو.

بس د نيلم سترګې وی او زه وم.

د هغې اشارې مې هيڅکله هم له ياده نه وځي.

کابل ته ورسيدو، زه راساً پوهنتون ته لاړم...

خو د نيلم په کابل کې چيرته خپلوان ؤ.

هغه هلته ولاړه.

زه په پوهنتون کې پاتې شوم، په لومړی ورځ مدير صاحب راغی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د سټیج (دریځ) پر سر یې خپل بیان داسی واورولو!
سلامونه ګرانو محصلینو!
لکه څرنګه چې تاسې ته معلومه ده.

زموږ پوهنتون هر کال په زرګونه نوي محصلین قبلوي.

په همدې ډول نن هم موږ پخپل پوهنتون کې ډیر نوي ځوانان لرو، ښه راغلاست ورته وایو.

هر کله دې راشي او خدای تعالی دې وکړي، چې دلته مو خوشحاله ژوند په برخه شي.

او خوږې خوږې خاطرې له دې ځایه له ځانه سره یوسی.
زموږ د پوهنتون یو څه اصول دي، که هر محصل د هغې اصولو پیروي ونه کړي.

نو له پوهنتون څخه به بهر کړل شي.
لومړې:

(c) ketabton.com: The Digital Library



دلته د انجونو سره رابطې قطعً منعه دي او که هر ځوک پرې ګير شو، نو بيا يې ګيله له خپله ځانه ده.

خوا کې مې يو مسخره ځوان ولاړ وو له خولې يې ووتل:

ښه، دا دې يو برکت؛

د مدير صيب خبرو لا جريان درلود.

دوهم دلته د چاقو توفنچې او وغيره ځيزونو د راوړلو څخه ډډه وکړئ.

دريم که هر چا پورتني دوه اصول مات کړل، نو د پوهنتون څخه شړل کيږي.

او که کوم ځوان له کابل پوهنتون څخه وشړل شو.

نو هغه ځوان ته بيا،

په يو ځای کې هم د درس اجازه نه ورکول کيږي .

همدا خبرې مدير وکړې.

او ولاړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



موږ ته د پوهنتون ملازم خپله خونه وښووله.

زموږ په خونه کې له ما سره درې نور ځوانان هم و .

هغوي ښه ګپ شپي هلکان و.

ښه د مجلس او اَکاړې خلک ؤ.

موږ د همدې شپې څخه څلور واړه ځوانان د يَرې ياران شو.

ښه ګپ شپ مو جوړ شو.

خو ما سره ډېر غم د نيلم ؤ، هغه هم د کابل پوهنتون ته کامېابه شوې وه.

خو ځانګه يې کمپيوټر ساينس ؤ.

او زما ځانګه بيا، ادبيات و.

زما يو څه خبرى روانې او ساده وې او همداسې يو ښکلى ځوان هم وم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو زه پوره باور لرم، چې د نيلم په دې شيانو نه خوښيدم.

د هغې صرف په دې خوښېدم چې زه هم لکه د هغه په رقم پو وفاداره ځوان وم.

ما هيڅکله هم هغه هېره نکړه.

او اوس به يې هم هېره نکړم، ځکه چې هغه زما مينه ده.

نيلم ډيره حياناکه انجلۍ وه .

هغه به پوهنتون ته په چادري کې راتله.

که څه هم دا کابل ؤ، خو هغه د ننګرهار پېغله وه.

ځکه يې نو خپله حياء پخپله ښه پيژندله.

نيلم به هره ورځ زه د خپل ځان وخواته بلللم، خو دا زما هيڅ نه خوښېدل.

ځکه چې ما ته به د مدير خبره مخې ته ودرېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې ويلي يې ؤ:

که چيرې څوک له دې پوهنتون څخه وشړل شو، نو بيا به ورته هيڅکله هم د داخلېدو چانس پيدا نشي.

د شاګردانو توجو بيخي زما خواته ډيره شوې وه.

ځکه چې هغوي هم د همدې پوهنتون محصلين ؤ.

او داسې کيسې بيا داسې محصلينو ته ډير خوند ورکوي.

لږه وقفه مې واخيسته، چاى پسې مې سټ کوږ کړ.

منتظر زموږ پوهنتون کې ډېر ممتازه شاګرد دی هغه راته کړه:

ښه استاذه ولې دې کيسه ودروله، وايه کنه؟

ورته ومې ويل:

هغه چاى څنګه شو ياره ستونې مې نور وچ شو.

سالار راغږ کړ.

استاذ جانه!

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه دی در وړم يې.

لږ څه راته معتل شی.

تور چای راغی، قيصه می بيا ورته راواخيسته!

ما به تل نيلم ته ويل:

ګوره نيلم که چيرې کوم چا موږ دلته يو ځای وليدلو، نو موږ به هيڅکله هم بيا په دې پوهنتون کې پاتې نشو.

خو نيلم به ويل:

نه!

ان شاءالله څوک مو نشي ليدلای.

ځکه چې دلته يواځې يو ته او يو زه يم.

موږ به تل د شپې يو بل سره ليده کاته کول، د ورځې خو بنديز و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



او بل موږ ويرېدلو هسې نه چې تولګيوال راباندې خبر شي.
په لومړۍ شپه زه د نيلم وخواته ورغلم.
هغې ته مې وويل:
بايَد موږ، يوځل بيا جلا شو.
او هيڅکله هم، لکه د پخوا په څېر يو بل هېر نکړو.
خو هغې راسره ونه منله.
ويل يې:
زه خو ستا څخه بغېر يوه لحظه لا نشم تېرولای.
زه خو حيرانه دېته يم، چې پوهنتون به څه وخت ختميږي.
چې زما او ستا واده وشي.
او ته مې خپل کور ته په ډولۍ کې بوسې.
خو ماسره د دې ځای غم وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هسې نه چې څوک مې وګوري.

او له دې پوهنتون څخه بهر شم.

اوف!

زه څومره څومره ساده وم يارانو!

خو نيلم راسره ونه منله.

ونشوه.

اخر زه هم قانع شوَم.

زه به هره شپه د پوهنتون څخه بهر په باغ کې د نيلم سره يو ځاى کښېنستم.

هغې به راباندې د خپلې مينې د خوږو څخه ځکه کوله.

مابه هم ورنه ډير خوند اخيسته،

واقعاً چې هغه وختونه ډير خوندور وختونه و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه چې هرکله هغه وختونه رايادوم، نو ژړا راځي.
په هر حال پوره درې مياشتې به مو همداسې يو بل سره ليده کاته کول.

هغه بيخي له ما سره عادت شوې وه، زما د هغې سترګې هېڅکله هم نه هېريږي.

د هغې ليده کاته بيخي خوندور و!

تور ګڼ ويښتان يې درلودل تکې تورې سترګې يې درلودلې.
هغه د خپلې وفادارۍ او ريښتينولۍ سربېره يوه زړه راښکونکې او جذابه انجلۍ هم وه.

زه يې که لس ساعته نور هم په صفت کولو لګيا شم، بيا به هم د هغې په صفت کولو موړ نشم...
دې خبرو محصلينو ته ډېر خوند ورکړ، زما چې خيال شو.

د ټولو خولې وازې پاتې وې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



او په خپله خوله کې يې د خوند لپاړې هم تېرولې.
ځکه مې لږه نوره مالګه هم پکې واچوله(!)
زما فکر محصلينو ته شو، حکمت راغبږ کړ:
استاذ جانه!

ودرېږه مه،

چې کيسه دې ډېر خوندور ځای ته رسولې ده.

ادامه ورکړه؛

بيا مې شروع وکړه:

زما او د نيلم اړيکه پخه شوه.

يو بل سره بيخي عادت شو،

تر اوسه يوه شپه هم داسې نه وه تيره شوې، چې
مور دې د يو بل سره نه وي ليدلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په پوهنتون کې مو پوره څلور میاشتې تیرې شوې.
یوه ورځ !

شړَکنده باران وریده.

په آسمان کې قدرتي رڼاګانو داسې دَرّزونه جوړول.

چې د اِلاهي قهر ښکارندویي یې کوي.

د باران سره یوه نیمه ګلۍ هم را وریده، د شپې اته بجې به وې.

لکه څنګه چې ما او نیلم به په همدغه وخت کې له یو بل سره کتل.

په همدې اساس مې د پراشوټ نه جوړ شوی، خپل جمپر هم واغوستو.

تر څو باران مې لوند نه کړي.

بهر راووتم چې د نیلم خواته ورشم.

یوه د پوهنتون زړه چترۍ مې خپل سرته ونیوله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



او روان شوم واقعاً چې ریښتیني مینه ـ ریښتیني مینه وي.

بیرون راووتم، په هماغه باغ کې پخپله زړه چوکۍ راته نیلم ناسته وه.

باران ټوله لمده کړې وه، زه یې و خواته ورغلم...

د تورو سترګو رانجه یې باران لاندې مخ ته راوړي و.

د زلفود څوکو نه یې یو- یو څاڅکی هم بهیده.
ما پخپله چترۍ کې له ځانه سره پټه کړه.

ورته مې وویل :

ته ولې !

دلته ولې ناسته وې.

خو یو چت لرونکي ځای کې به ولاړه وې کنه!؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



يا به بيخي نه راتلې څه ضرور و!
له سرو اننګو څخه يې د باران څاڅکي پاکول، يخنۍ نيولې وه.

واقعاً چې نيلم زما سره مينه لرله، ځکه چې داسې حال کې يې واځې مينه ده، چې انسان له خپل استوګنځای څخه راوباسي.

هغې راته وويل:

ګرانه!

ستا څخه بغير راته هېڅ ژوند خوند نه راکوي.

زه ټوله ورځ د دی په تمه تيروم، چې د شپې له تاسره ووينم.

که ته نه وای!

(c) ketabton.com: The Digital Library



خدای خبر چې ما به دا دومره سخت ژوند څنګه تيرولای.
د باغ يوې خواته جماعت و.
خو ما نيلم جماعت ته نه بوتله،
ځکه هسې نه!
هلته څوک وي او زموږ په اړيکه خبر شي.
ځکه مې نيلم ته وويل:
نن باران دی او خبرې نشو کولای،سبا به بيا ګورو..
زه ډير خوشحاله شوم چې نيلم زما لپاره په دې باران کې هم راغله.
خو فکر کووم چې نيلم خوشحاله لا نه ده.
ځکه هغې غوښتل ما سره لکه د پخوا په رقم خبرې وکړي، سره وخاندو خوشحالي وکړو...
خو دا هرڅه په باران کې ناممکن ؤ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځکه نيلم خپل اطاق ته ولاړه او زه خپل اطاق ته راغلم.

خو که ريښتيا ووايم.

زه هم خفه شوم، ځکه چې

لومړۍ شپه وه د نيلم سره مې

زړه دخلاصه خبرې ونه کړې .

د هغې سترګو ته مې زيات ونه کتل، د هغې په مخ او سر ښکلولو مې ورڅخه خدای په آماني وانه خيسته.

د همدې ورځې په سبا مدير صاحب اعلان وکړ، چې نن غرمه به د ټولو شاګردانو غونډه وي.

او بايد چې نهاريان اوليليې والا دواړه پکې ګډون وکړي.

دې غونډې ته زه هم ورغلم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مدير صاحب د دريځ پر سر خبرې په دې ټکو پيل کړې!
لکه څرنګه چې ما تاسې ته ويلي وو.

که هر شاګرد پدې پوهنتون کې د انجونو سره د مينې په نوم په بې ځايه قيصو ګير شو.

نو له دې پوهنتون څخه به شړل کيږي.

او بيا ورته يو رقم پوهنتون هم د شامليدو اجازه نه ورکوي.

نو موږ به نن د خپلې وعدې د ريښتينولۍ لپاره دوه تنه زده کوونکي لدې پوهنتون څخه وباسو.
ترڅو تاسې ته عبرت پاتې شي.

د لومړي نوم دی.

ساحل!

او دوهمه د ده مينه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نيلم!

دوي دواړه دې د دريځ سر ته راشي.

د مخ سورځي مې والوته،

او سور رنګ يې په زيړ رنګ بدل شو.

د دومره لوی شرم بار ما هيڅکله هم په اوږو نشو وړلی.

خو بله چاره نه وه.

سر ټيټی د دريځ مخې ته ورغلم.

نيلم هم!

مدير صاحب په لوی سکرين کې يوه ويډيو پلی کړه.

چې په هغې کې زموږ د تيرې شپې ثبت شوی ؤ.

اوس نو بيخي شرم راته په چامو کې ځای نه راکاوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



***

هر کله چې زه تيره شپه په باران کې...

د نيلم وخواته د هغې د ليدلو لپاره تللی وم.

نو زموږ فکر باران ته و.

خو هلته رانه چا ويډيو کړې وه.

د ټولو محصلينو خولې وازې پاتې شوې.

زما مشروټو ملګرو راباندې لعنت ووايه، خو زما نږدې ملګرى غفور بيخي ډېر خفه شو.

هغه ما د ښهرې ښخه وپيژانده.

د هغه غريب نور هېڅ هم په وس پوره نه و.

د مدير صاحب پر وړاندې ودريد.

ورته يې وويل:

خير دې مدير صاحب!

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ساحل ذمه واري زه کووم.

هغه به بیا هیڅکله هم داسې کار ونکړي خو مدیر ونه منله.

او موږ ته یې هغه خط راکړ، چې د پوهنتون څخه پرې بهر کیدلو او بهر شو.

ما په پوهنتون کې د غفور څخه خدای پاماني واخیسته او روان شوم.

نیلم ورکه شوه.

چا به یو څه ویل او چا بل څه، خو د هغې درک نه و.

په کور کې مې هم نور زړه نه لږیده.

بس لاړم!

ملي اردو ته ځکه چې بله لار نه وه راپاتې،

اردو کې یې ونیولم.

خو زما زړه پکی نا ارامه و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دوه مياشتو تمرين وروسته بېرته ترې خفه راووتم.
د نيلم په لټون کې شوم.

چې نيلم پيدا کړم، د هغې کور په ننګرهار کی و.

ځکه ورپسې ننګرهار ته راغلم.

او راساً د نيلم کور ته ورغلم.
د نيلم پلار ويل:
چی نيلم دلته راغلې وه.

خو ډيره سخته زياته خفه وه.

ځکه نو هغه ولاړه فراه ته...
زه راغلم ننګرهار کې خپل پلرني کور ته.

پلار ته مې ټوله قيصه ربنتيا ربنتيا وکړه.
هغه سخت خفه شو!

او د نيلم پوښتنه يي وکړه.

چی هغه وس چيرته ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما ورته وويل:

ولا!

بابا جانه نيلم پسې زه ګرځم.

چې ترڅو مې هغه نه وي پيداکړي.

ژوند راته خوند نه راکوي.

ويل يې:

سمه ده بچيه.

خو کاش!

چى تا ماته د مکتب د وختونو نه د نيلم په اړه ويلى واى.

مابه درته هماغه وخت کې غوښتلې واى.

خو زه خير همت به نه بايلې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته خپله خواري کوه، نور هر څه د رب العزت په لاس کې دي...

د اوخت يو شاګرد پښتنه وکړه .

استاذ جانه!

نو تاسې چې د پوهنتون څخه شړل شوي واست. بيا دلته استاذ څنګه شوی؟

ما ورته وويل:

قيصه لا شته مخکې به ټوپونه نه وهې.

په دې به هم پوه شې چې بيا زه څنګه دلته استاذ شوم.

او هم پوه به شي چی نيلم می پيدا کړه او که نه!؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



***

د نيلم پلار راته ويلي و.

چې د هغوي يو ورور په فراه کې اوسېږي.

او نيلم يې د هغوي کره لېږلې.

شپه مې پخپل کور کې ښه په ارامه تېره کړه.

سهار وختي د فراه په تکل له خپل کور څخه راووتم.

د مور دعا مې واخيسته.

په کابل هډه کې موټر ته وختم.

د ننګرهار ګرمي شروع شوې وه .

او لمر به يې د انسانانو پوستکي سوځول.

زوړ! تک سور پلنکوچ و د موبلينو بوي يې د انسانانو زړونه خرابول.

ما يو بوتل اوبه هم له ځان سره اخيستې وې.

دا مهال د ورځې لس بجې وې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه د کلي نه تر کابل هډې پورې په بل موټر کې راغلم.

د ننګرهار خلک ګرمۍ اخيستي و، هر څوک په منډه ؤ.

هيچا هم د صبر ميوه نه پيژندله.

موټر حرکت وکړ د ننګرهار په نهر راتير شو.

همداسی په کرار- کرار عمومي سړک ته راووت.

د انسانانو شور او غوغا کومه چی به په ښار کی وه، ورو ورو ورکه شوه.

او د درونټې سيمې ته ورسېدؤ، دا سيمه يو لوی تونل لري.

چې څنګ ته يې غټ ډيم جوړ دی.

ټول ننګرهار ته برق ورکوي او دا برق د درونټې د برق په نامه سره ياديږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلک وايي چې دا ډيم د روسانو په وخت کی روسانو پخپل لاس جوړ کړی .

ځکه نو موږ ننګرهاريان شکر وس د برق هيڅ کمی نلرو.

د تونل نه هاخوا ښي لاس ته د ډيم شاتنی برخه ده.

کومه چې پکې اوبه راغونډيږي.

که پدې ځای کې خدای ناخواسته هر موټر ورولوېد.

يا انسان.

نو روغ نه پاته کيږي.

ځکه چې ډير ژور دی.

په لاره کی په دی پوه شوم، چی دغه ټولی اوبه د کابل وې.

چې د ننګرهار په لور رهي شوې وې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



او د ننگرهار څخه په مفته ډول پاکستان ته ځي.
او هغوي ترى بيا په ورځک ډېم کې گټه اخلي.
په هر حال د درونتې نه ور واوړيدو.
لغمان ته ورسېدو، زه واقعاً چې په نيلم پسې ډير زيات خفه وم.
او که د هغې په تلاش کې مړ شوې هم واى پروا مې نه وه.
د لغمان دوسرکه هم تيره شوه او همداسى مخکې يو ځاى دى.
چى تنگى ورته وايې چې ښي لاس ته يې تل اسماني رنگه اوبه په داسې جوش سره روانى وي.
چى د يو ځوان د طاقت ښکارندويي کوي.
واقعاً چى خوندورې منظرې دي، زموږ د کابل او ننگرهار په لاره کې هر کله که تاسى اوزگار شوى.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو ضرور ورشی او دا منظرې پخپلو سترګو ووینۍ.
د ماهیپر منظره یې بیا بېله خوندوره ده، زموږ
مشرانو به ویل چې دېته ماهیپر ځکه وایي چې:
دلته پخوا یو لوی سمندر ؤ.

دومره ډوب وو، چې دا یو غر هم پکې نه ښکارېده.
د ماهیپر غرونه ډیر زیات لوړ دي.
نو وایې پدې لاره چېرته کوم نهنګ تیریده، نهنګ
لوی ماهي ته وایي.

هغه نهنګ دلته یو وزر وهلی ؤ.

او دغه غرونو کې یې لاره کړې وه.
مطلب دلته یو ماهي پر وهلی و.

او د دې غرونو په منځ کې یې لار کړې وه، چې
اوس خلک په هغې لاره ځي او راځي.
بیا خلک وایي چې د وخت په تېرېدو سره دا ځای د
سمندر څخه رابهر شو...

(c) ketabton.com: The Digital Library



نور والله اعلم.

خو !دا کيسي به زموږ مشرانو کولې.

ځکه نو اوس ورته ماهيپر وايې.

له دې سختې لارې وروسته زه د کابل په ښار ورننوتم او په پل محمود خان کې له سور پلنکوچ څخه راښکته شوم.

په کابل کې د قل اردو مخې ته زموږ د عسکرۍ د وخت ملګري ولاړ و ❋.

روغبړ مې ورسره وکړ.

د صحت پښتنه مې ورڅخه وکړه.

ويل يې:

ښه يو.

خو حالاتو يې دا ويله:

چې بيخي ښه نه دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځکه هغوي ډېر خفه ؤ.
د خفګان علت می ورڅخه وپوښت.

ويل يي:
ياره فراه ته مو د جنګ لپاره ليږي او ويل کيږي، چې ډير کم خلک د فراه د جنګ نه ژوندي راغلي دي.
ما ورته وويل:
ښه يارانو تاسې چی فراه ته ځی، نو په موټر کی ځی يا الوتکه کې.

ويل يي:
نه ياره الوتکو ټولو پرواز کړی.

او موږ بايد موټرو کې تر فراه ولاړ شو.
بيا ما ورته وويل:
يارانو!

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا خو ډيره ښه خبره ده، زه هم فراه ته ځم ټول به يو ځای ولاړ شو.
او ساعت به مو هم تير شي.
د همدې ملګرو سره د فراه په طرف روان شوم.
دوي يو غټ بس ونيو، موټروان يې هم عسکر و.
په لاره کی مو ښې مېلې وکړې.
ځکه چی هر د ملي اردو عسکر ډېر معاش لاره.
تر شل پنځه ويشت زره افغانۍ پوری کيده.
او د ډيری عسکرو نور د کورنۍ غړي هم نه و،
دوي ته ډوډی هم ښه رسيده.
نو پيسو ته يي دومره اړتيا نه وه، ځکه به يي په هر ډول مصرفولې.
تر فراه پوری په ځان پوه نشوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دومره میلی او ښه خوراکونه مو وکړل، چی نیلم مې بیخي له یاده ووته.
ځکه چی د ملګرو سره په خبرو بوخت شو.
واقعا هغه ملګري چې د سر نه تېر وي.
ورسره خبرې کول ډېر خوند لري.
په هر حال د فراه ښار ته راورسېدو، په فراه کې یو عجیب ډول ماحول دی.
د هغوي په بازارونو کې رنګارنګ فرشونه جوړیږي.
موږ سره په موټر کې یو مشر هم و.
هغه په فراه کې ډېر بلد ؤ.
نو د دې فرشونو په اړه یې داسې وویل:
دا فرشونه خلک پخپلو کورونو کې پخپلو زنانه وو باندې جوړوي.
پخپلو لوڼو او خویندو باندې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په فراه کې چې هره مېرمن يا انجلۍ ښکلی فرش ډيزاين کړي.

نو بيا د يوې لوړې کورنۍ هلک ورپسې ريشته ليږي...

هره انجلۍ کوښښ کوي.

تر څو ښکلې فرش، ښکلې قره قل او ښکلي پوځي جوړ کړي.

هلته د همدې وړيو څخه ډېر نور شيان هم انجونې جوړوي.

لکه چپن شوه، بوټان او همداسې نور...

او هر هلک ځان لپاره هغه انجلۍ خوښوي، چې په خپل کار کې ښکلې او نوی ډيزاين ولري.

د نيلم پلار ماته په فراه کې د يوې ساحې ادرس راکړی ؤ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



چی هلته باید ورشم د هغی ساحی نوم رانه اوس هېر دی.

صبر چې را یاد یې کړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



***

پزده!
پزده کلی نومیده.

ويل يې چې پزده کلي کې به ته زما ورور پيداکړي.

عسکر هغې خواته نه تلل خو د ملګرتيا له مخې راسره ولاړل...

هغوي ته لار معلومه نه وه.

خو بس رهي شؤ، پدې لاره کې مو د يو سړي څخه د پزده کلي پښتنه وکړه.

هغې وويل:

دې خامې ته واوړى او مخکې ورشى.
د دښتې په اخر کې پزده کلى دى.
شپه پخې ته رسېدلې وه.

سپوږمى خپل ښايست د وريځو په منځ کې لږ- لږ رابښکاره کاوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



موټروان بيخي ستړی شوی ؤ، ځکه نو يي موټر ماته پريښود.
په دې نيمه شپه کې زه هم نابلده روان شوم.
دښته کې ډېر بی خونده اغزي و.
ګېر چاپېره داسې ساحه وه، چې مشرق او مغرب نه ښکاريده.
يوه بدرنګه دښته وه.
موټر مو پوره درې ساعته مزل وکړ.
خو لاری ته را ونه وتو.
اخر سهار شو، خو بيا هم دښته وه.
موټر وان چې له خوبه راپاسيد.
نو خپله اشتړنګ ته کښيناست، خو هېڅ لاره نه ورمعلوميده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



فکر کووم لاره مو ورکه کړې وه!.
سخت خواشينی شو، ځکه چې اوس به لاره څنګه پيداکوو.
خو توکل په خدای په يو طرف روان شو.
اودا پريکړه مو وکړه.
چې په همدې مسير به تر اخيره ځو.
که کوم سرک ته ورسيږو!
پوره دوه ورځې راباندې په همدې دښته کې تيرې شوې.
اخر د خوراک سامان هم ختم شول.
او نه هم کوم بل چل راته، خو په کوم مسير چې مو حرکت کړی و.
په هماغه مسير روان و د شپې اته بجې به وې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې د لرې ځای څخه يوه لوړه مناره رابښکاره شوه.
ډېر زيات خوشحاله شؤ، ځکه ښه شوه چې يو څه خو مو پيدا کړل.

دا يو جومات ؤ.

خو هر کله چې مسجد ته ننوتو، نو د مسجد ټولې دروازې قلف وې.

ډيرى چغې مو وکړې.

دروازه مو ور وټکوله، خو هېڅوک هم رانغى.

بس اخر ملګرو فېصله وکړه، چې يو نفر ور واوړي.
او خبره دا شوه چې بايد زه ور واوړم.

په دروازه يې ور اوچت کړم.

او جماعت ته ور واوړېدم.

د جماعت کونډه نه خلاصېده، فکر کووم زنګ وهلې وه.

بس په يو چل ول او زورونو باندې مې خلاسه کړه.
ټول ملګري دننه راننوتل خو ګوته په ماشه و، ځکه

(c) ketabton.com: The Digital Library



چی داهم کیدای شوه، چی دلته دښمن وي.
هر کله چې د جماعت دننه خواته روان شو، نو ومو کتل چې په جماعت کی رڼا وه.

***

سخت وویریدو خو بله لار نه وه، د کړکۍ لخوا مې وکتل یو ځوان د ډیوې رڼا ته ناست و.
او قران کریم یې مخې ته ایښی و...
سخت د ویرې وخت و، ځکه چې دروازه زنګ وهلې .
کونډه مې هاغسې په زورونو ورته خلاصه کړه، همداسی د جماعت دغه دروازی بېرون نه بندي دي.
بیاهم پکې سړی دننه ناست دی.
دروازه مو ورټک-ټک کړه، سړی بیا هم هماغسې خپل درس ته ناست و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



او را پانځېد.

اخر مو د دروازې کونډه ورماته کړه، دننه په داسې حال کې ورننوتو چې په يخ ژمي کې راباندې خوله راماته وه.

ورو- ورو هاغه سړي ته ورنږدې کېدو.

د ويرى نه مو مخ عاجزه، سترګې مو ټيټې او وېښته مو نېغ ولاړ و.

موږ لا ورسيدلي نه وو.

چې هغې خپل قران مجيد راپورته کړ.

لومړى يې مچ کړ.

او وروسته يې په المارۍ کې کېښود.

زړه مو لړ پاتې وؤ، چې له ويرې څخه وچاوديږي.

خو د سپينو جامو والا سړي ډاډه راکړو.

ويل يې ويريږۍ مه.

زه تاسې ته کوم زيان نه رسوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



او تاسې هم ماته کوم زيان مه رسوئ.

موږ خو هغې هم پښتانه افغانان يو(!)
ورته مو وويل:
ولې وويرېږو ټول دالله تعالی مخلوقات يو
هغې يو ځل زموږ د ټولو په مخ نظر تير کړ.
بيايې وويل:
په دې يخ ژمي کې دا خوَله هر څه بَيانوي.
خو بيا هم وايم:
مه وېرېږئ.
زه پوهېږم چې ستاسې څخه لاره ورکه شوېده.
زه به تاسې ته لاره هم وښايم.
او تاسې شپه هم دلته تېرولای شئ.
خو په ياد ولرئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا جماعت د الله ﷻ کور دی، دلته به وسلې نه راننباسی.

ځکه نو ټولو ملګرو وسلی بيرون کېښودې .

موږ د اودس لپاره بيرون راووتو.

چی مو وکتل د داسې لويې دښتې په منځ کې داسې ښکلې جماعت،

بيخي عجبه وه.

پدې جماعت کې ګرمې اوبه، صابون او هم خولۍ ګانې موجودې وې.

موږ اودس وکړ.

او لمونځ مو اداء کړ.

د سپينو جامو والا هم راسره څنګ کې پريوت.

خو تر دولسو پورې خوب نه راته، ځکه چې ډيره سخته ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اخر انسانان ؤ.

خو اخر راپسې د سپينو جامو والا سړي راغی.

راته يې وويل:

زه پوهيږم ته ويريږې.

او خوب نه درځي.

زه درته وايم:

دلته يواځې تاسې نه ياست راغلي.

ستاسې په خبر چې هر لاروی لاره غلته کړي.

يو ځل ضرور د دې ځای ديدار کوي.

ته په ارامه زړه ويده شه ته نه ګوري، چی موږ په يو دين يو.

موږ هم دالله تعالی عبادت کوو.

تاسې هم .

(c) ketabton.com: The Digital Library



موږ هم د رسول ﷺ امتیانو کې راځو.

تاسې هم.

ته لومړی پخپل خدای یقین ولره اوبیا په ما.

تاسې ته که زموږ د مخلوقاتو نه کوم بل څوک هم زیان رسوي.

زه به یې پر یندم.

ځکه چې تاسې زما مېلمانه یاست.

چې ومې کتل ټول ملګري ویښ و.

او د سپینو جامو والا سړي، دې خبرې ته یې غوږ نیولای و.

هلکه ذوالفقاره یاره دا چای خو یخ شو.

ته یې یو څه ګرم کړه، یو څو شاګردان سخت په دقت سره ناست و!

بل شاګرد چې نعیم نومېده وویل:

یاره استاذ جانه کیسه دې بیخي بل طرفته بوتله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه د پوهنتون او نيلم خبرې ته به کله را رسي.
ټولو شاګردانو يې خبره بدرګه کړه.
ما ورته وويل:

صبر وکړئ.

بس چې د دغه جماعت نه ووځم.

هماغه د نيلم خبرې ته راځم.
حکمت وويل:
ښه استاذ جانه وايه ؟
- ټولو ته خوب نه ورته خو زه سهار مهال کی لږ
ويده شوی وم.

خدای شته!

سهار وختي کې سپين کالي سړي ټول پاڅولۀ.

ويل يې پاڅئ!

دلته د هر وخت جمه کيږي.

جمې ته ځانونه راورسوئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مورې خپل اودسونه وکړل، رښتیا هم سپین کالی سړی راته ولاړ وو.

د هغه په وینا مورې په لومړي قطار کې ودریدو.

او خپل لمونځ مو اداء کړ.

د سهار لمر خپلې وړانګې په خړه دښته خورې کړې.

مورې د سپین کالي سړي څخه رخصت واخیست.

هغه مورې په یو مسیر برابر کړو.

او ویل یې :

همداسې مخکې ولاړ شئ.

تاسې به پزده کلې بیاموئ.

رښتیا هم هماغسې وروان شو.

او د نیم ساعت مزل وروسته د پزده نومي کلي ته ورسیدو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هلته مو د شيرين اغا ماما پوښتنه وکړه چې د نيلم
تره وو.
خو هيچا هم نه پيژانده.
فکر کووم، يو ګمنام سړی و.
د کلي په اخر کې يې کور وو.
ورغلم.

او د نيلم په باره کې مې ورته وويل:
هغه خپل سر څوړند ونيو.
هيڅ يې هم ونه ويل.
ما ورنه بار- بار پوښتنه وکړه.
او ډير مې تنګ کړ.
اخر يې راته وويل.
چې دومره شوق لرې نو واوره!
نيلم چې کله د ننګرهار نه فراه ته راغله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغې فکر کاوه چې د پوهنتون سختۍ او خپل ممتاز به فراه ته په راتلو سره له یاده وباسي.
خو هغسې ونشو او هغه نوره هم د غم په دریاب کی ډوبه شوه.
مورڼ ورته ډیرې تسلیانې ورکولې خو هغې هېڅ نه منل.
د هغې بانه ګان ټول په ژړا - ژړا را ووتل.
او بدبختانه یوه ورځ چی یې زه کوټې ته ورغلم.
نو ځان یې پخپل پکي پورې راځړولې ؤ.
او د تل لپاره لاړه..
زما په سترګو کې ټولو شاګردانو د درد اوښکې ولیدلې.
د هغوې سترګو هم اوښکې قابو نشوې کړاې.
اوپه کرار- کرار یې راسره وژړل.
نیلم پسی زه پوره پنځلس ورځې وګرځېدم خو بغیر د قبر څخه یې ما نور څه ونه ونه لیدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه اوس هم د نيلم قبر ته هره مياشت ېو ځل ورځم.
زه د هغې سره وس هم مينه لرم او د قيامت تر ورځې
به د هغې ښايست او مينه زما له ذهن څخه ونه وځي.
زه چې هر کله سترګې پټې کړم نو نيلم مې خواله
راشي.
هغه ماسره څنګ ته کيني زه ورته د ژوند ټولې
ناخوالې بيان کړم.
هغه هيڅ نه وايې تل يې ماته غوږ نيولى وي.
زه چې هره شپېه وغواړم هغه ليدلاى شم.
هغه زما د زړه په دنيا کې اوسيږي.
شاګردانو وپوښتل:
استاذ جانه!
ايا تاسې واده کړى.
او يايي هم د کولو اراده لرئ.
ـ زه هيڅکله هم واده نه کووم، ځکه چې زه اوس هم د
نيلم سره مينه لرم او دا مينه به انشاءالله د قيامت تر

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورځې پورې دوام وکړي.
حکمت وويل :ښه استاذجانه نوره کيسه کوه، څنګه
تردې ځايه راغلې او د دې ټول پوهنتون مدير څنګه
شوې.
بيا مې ورته قيصه شروع کړه:
هر کله مې چې د نيلم قبر وليد او د هغه د مړينې
خبر مې واوريد.

نو بيخي مې حالات بدل شول.
د همغې ورځې نه راته ډاکټران وايې ته په اروايي
ناروغۍ اخته شوی يې.
خو زه په اروايي ناروغۍ نه بلکې پدې مرض اخته
شوې وم، چې څنګه اوس ددې پوهنتون د مدير نه
خپل غچ واخلم.
زه د کابل په لور وښوځيدم او عسکر پنځلس ورځې
مخکې خپلې وظيفې ته تللي و.
د نيلم تره راته دسرک لار وښوده.
زه په همغې لار روان شوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو ورسره ځنګ کې يې دا هم راته ويلي و.
چې لاره ډېره اوږده ده خو ته به خپل مسير نه بدلوې.

او مخامخ به ځې.
ما هم همداسې وکړل او مخامخ تلم.
خو د تعجب خبره دا وه چې عسکرو ته يې د شمال لاره او ماته يې د جنوب خړه دښته ښودلې وه.
په هرحال د يوې ورځې مزل کولو وروسته لږ وږی شوم.

لږ څه ډوډۍ او پياز مې جيب کې اچولي ؤ.
دا مهال د ماښام خړه په خورېدو وه.
د ځپيرې دښتې هر کاڼي او سپيرو چرمښکېو راته برګ برګ کتل.
د ماښام اسمان هم په شاړه دښته خپل شبنم وراوه.
ما پياز نيمايي سره دډوډۍ وخوړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



او يو ځل بيامې خپل مزل ته ادامه ورکړه، خو د شپې پخېدلو سره يو ځنګل ته ورسيدم؟
چې ډير هيبتناک ځنګل و!

ډير ورخطا شوم، خو بيا مې فکر وکړ.

چې کليوالو پدې لياره سيده کړی يم، امکان لري ځنګل وړوکی وي.
ځکه نو ورننوتم.

خو څومره به چې په ځنګل ورننوتو.

هماغومره به نور هم ځنګل پراخيده؟
د زړ کلنو ونو ريښی مې وليدې پدې ځنګله کې رقم رقم شادياني(بيزوګانې) هم وې.

او د هر ډول ځناور وېَره پکې موجوده وه.
د رنهو اوبو چينې، د چارمغزو ونې، لوړې-لوړې دچنارونو ونې، پولي چې طبيعي داوبو لپاره جوړې وې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا هر څه پدې ځنګل کې موجود ؤ.
د چار مغزو زیړی پاڼې د خزان باد راغورځولې.
ټولې پاڼې یې په ځمکه پرتې وې.
د شپې ناوخته مهال په ډاروونکي ځنګله کې یو ګناهګار انسان ډېر وېریږي.
او زه هم د خدای تعالی یو ګناهګار بنده وم.
خو په خپل رب باندې مې یقین دومره پوخ په هاغه ورځ چې که یو داړوونکي حیوان مې هم مخې ته راغلی وای.
نو زه به تری هیڅ نه وای ویریدلی، ځکه چې پخپل رب مې یقین پوخ و.
او زه پدی پوهېدم.
هغه رب چې یوسف علیه سلام په کوهي کې سلامت ساتلای شي یونس ع د ماهي په ګېډه کې سلامت ساتلای شي او ابراهیم علیه سلام د اور په منځ کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژوندی ساتي...
نو ما هم په دې ځنګله کې سلامت ساتلای شي .

خو سوچ دېته وړی وم.

چې شپه به چېرې تېروم.

د ځنګله هر اړخ مې ولټاوه، خو نه مې هم لاره پيداکړه او نه مې هم داسې ځای چې شپه پکې تېره کړم.

په هر حال د چينې ترڅنګ لږ څه صفا ځای و.

همدلته مې خپل دسمال واچاوه.

په دې يخه ېخنۍ کې پرې پريوتم.

خو خوب څکه نه راته، چې يخنۍ ځورولم.

په هر حال يو وخت د يخنۍ سره اموخته شوی او ويده شوی وم.

څکه چې ستړی او نا ارامه وم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



او سترې انسان ته په هر ډول ماحول کې خوب ورځي.
خو د شپې ناوخته په مخ مې يو څه يخ څاڅکي ولګيدل، ځان مې پر مخی کړ.
ساړه خو هځې هم و خو باران پکې لاکم و.
دا هم شروع شو.
پداسې حالت کې له خوب څخه راويښ شوم، چې ټول لوند وم.
او د چينې اوبو په مخه کړی وم.
د تېز باران سره ګلی هم وريده، ماته لامبا زده وه.
خو دا اوبه ډيری يخې او تيزې روانې وې.
په هر حال تر ډېر لرې ځايه، دی اوبو يوړم.
خو شکر ډوب يې نکړم.
د لرې ځاې نه د راوړلو وروسته مې په څه چل هنر ځان غاړې ته وباسه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو پیاز ډوډۍ او دسمال راخخه اوبو وړي وو.
د باران څاڅکو مې د مخ په پوستکو لارې جوړولې.
او د اخیري سلګېو وینا به یې زنې ته سپارله.
نور به لاندې لویدې.
زه په ځغاسته - ځغاسته تر ډیره لرې ځایه راغلم.
خو هېڅ څېرې مې پیدا نکړ.
تر څو خپل ځان ورته وچ کړم.
خو هرکله چې مې خېال په ځنګله کې د ډیرو زیاتو ونو هاخوا یوې رڼا ته شو.
په ډیره بیړه تر هغه ځایه ورغلم.
هر کله چې ورورسیدم.
نو دا یو وړوکی کور و.
خو بېرون یې په شناخته په پښتو لیکلي ؤ.
دلته د هېڅ مسافر لپاره ځای نشته.
سخت خواشینې شوم!

(c) ketabton.com: The Digital Library



بيا مې هم د ازموينې لپاره دروازه ور ټک - ټک کړه.

فکر کووم چا وانه وريده بيامې ور ټک ټک کړه.
داخل مې د پښو ښکالو تر غوږو شوه.

فکر کووم، څوک دروازې ته راغلل.
لومړی يې په نري اواز پښتنه وکړه.

سلام!

تاسې څوک؟

ما ورته وويل:

زه يو مسافر يم.

تاسې پر ما باور وکړئ.

که چيرې زه مجبور نه وای، نو هيڅکله مې هم ستاسې دروازه نه دروهله.
ويې ويل :

زه څنګه پر تاسې باور وکړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې تاسې د دښمن له ډلې څخه نه یاست.
ماورته خپله تذکره د دروازې لاندې ورتیره کړه.
همداسې د پوهنتون کارت هم، نجلی خاموشه شوه.
او تر ډیره شېبه یې هېڅ اواز هم راونه ووت.
ماورته ډیری چغې وکړې.
خو جواب یې رانغې.
زما تذکره کاپې وه ځکه یې کیسه کې نشوم.
او ترې راروان شوم.
ما به لا دوه درې قدمه نه وو اخیستي.
چې یو دم دروازه خلاصه شوه.
ماچې مخ ورواړاوه نو...

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دروازه کې یوه ښکلې پیغله، چې په مخ یې اوښکو داري وهلې ولاړه وه.
زه نه پوهېدم چې هغه څوک ده.

خو په هرحال کورته د ورننوتلو بلنه یې راکړه.
زه ورننوتم.

په داسې تېز باران او یخنۍ کې یې دننه کور په لرګیو داسې ګرم کړی ؤ.

لکه د کابل حمام ،

دې نجلې دلته د ځنګله په منځ کې د ځنګلیانو په څېر ژوند نکاوه.

بلکې هرڅه ورته خه پوره برابر وو.
او د ښاریانو په څېر ژوند یې ؤ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماخو لومړی فکر کاوه، چې داهر څه دې نجلۍ پخپله جوړ کړي.
خو نه داسې نه وه.
دې نجلۍ راته وويل:
زه په يوڅو تنه وحشي انسانانو باندې خپل پلار د خپلې غريبۍ په بدل کې خرڅه کړم.
هغوي زه دلته په تړلو سترګو راوستم.
ماته هېڅ لاره معلومه نده.
ترڅو له دوي وتختم، ځکه خو يې همداسې ځاې ته راوستې يم.
دلته په اونۍ کې درې ورځې مختلف خلک راولي.
زما عزت پرې لوټي ،او زما باداران پرې زما په سر پېسې اخلي.
اوپاتې شوه ستا د نيلم خبره!
ستا نيلم ژوندۍ ده؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغې ماته ستا انځور خودلی وو.

او زه د نيلم د تره لور يم.

زه او نيلم دواړه زما پلار پدې خلکو خرخ کړو.

زه خو يې دلته راوستم، خو د نيلم معلومات راته نشته.

ماخو پدې انجلۍ باور ونکړ!

ځکه چې ما د نيلم قبر ليدلی وو.

په سر مې کمپل راکش کړه.

خودې نجلۍ راته وويل:

ته ولې پر ما باور نکوې.

ولې!

آيا؛

ته د نيلم سره همکاري نشې کولای.

ماورته وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګوره ما په خپلو سترګو د نيلم قبر ليدلی، ستا په خبرو نو زه څنګه باور وکړم.

ويل يې:

خا نو داخبره ده.

ژر لېن لرونکی ټليفون ته ورتېره شوه.

پورته يې کړ.

چاته يې زنګ وواهه.

په خوږه لهجه ورسره لګيا شوه:

سلام ګرانه!

څنګه يې ښه يې.

زما ډېر يادېږي څه وخت به راځې.

خا سمه ده .

زه غواړم د نيلم خور سره مې خبرې وکړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګرانه ډيره زياته مې ياديږي.
زه هيران شوم چې آيا په ريښتيا به وس د نيلم سره خبرې کوي.
ريښتيا هم د موبايل اواز يي اوچت کړ.
ويل يي:
سلام نيلم ښکلې ښه يي وخت ساعت پخير تيريږي.
نيلم په مړاوي ډول ورته وويل:
شکر دی.
ته ښکلې يې عاطفې●□~

ما به تل هغه له خبرو نه پيژنده!
اودا اواز واقعاً د نيلم وو.
عاطفې نيلم ته وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګوره نيلم نن ماسره داسې يو څوک ناست دی!
چې په تاکې به پخوانۍ نيلم راژوندۍ کړي.
تابه د دې بې خونده حالت نه راوباسي.
نيلم دبې وسۍ خندا وکړه.
او ويې ويل:
ته خو داسې خبرې کوې.
لکه مړ ممتاز چې دې خوا کې ناست وي.
داخبره يې د ژړا په انداز ما واوريده.
زه تر دې مهاله هيڅ په کيسه پوه نه وم.
او نه هم پوهيدم.
ځکه مې دعاطفې نه موبايل واخيست.
موبايل مې وخپل غوږ ته ونيو.
نيلم داسې اوازونه په موبايل کې کول.
هلو!

(c) ketabton.com: The Digital Library



بلې، اورې زما آواز درزي.

خو ما د هغې خبرو ته غوږ ايښى وو او چورت کى ورته تللى وم.

يو څو لحظې خو همداسې په خيالونو کې ډوب وم.

خو عاطفې وخکونډلم.

نيلم ته مى په بنده ژبه سلام وکړ.

ااا سسلامم عليیکم.

لږ څه سکوت وو.

بيا نيلم وويل:

ستاسې اواز زما لپاره بيخي اشنا دى.

ما ترې ډير خوند واخيست.

ايا!

(c) ketabton.com: The Digital Library



تاسې مو نوم راخوولی شئ.

ممتاز ساحل***😭

ماورته وويل:

زه ممتاز ساحل يم.

نيلم ځان کابو نشو کړای او پخپل ځای کې يې چيغی کړې.

ممتاز ژونده ته يې، زما ممتازه ته ژوندی يې ،ته خو به خه يې کنه، ممتازه ممتازا.😭😢

فکر کووم نيلم ته هم چا زما د مرګ ويلي وو.

لکه څنګه چې يې ماته د نيلم دمرګ ويلي وو.

دې د انسان په جامه کې ځناورو ورڅخه موبايل واخيست.

او فکر کووم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کومه سپېړه يې هم وو هله.

ماورته په موبايل کې اختار ورکړ.

او ورته مې وويل:

که چيرې مخې ته مې راغلې وژنم دې.

بس يو ځل بيا زما منزل د نيلم پيداکول شو.

او عاطفې ته نيلم ويلي ؤ، چې هغه يې کابل ته وړې.

پدې شپه مې خه په عادي ډول خپل اصطراحت وکړ.

په سهار مې تکل وکړ، چې زه دعاطفې سره بايد کابل ته ولاړ شم.

تر څو نيلم پيدا کړو.

عاطفې خپل ټول اسباب راټول کړل، او راسره روانه شوه.

پدې ځنګل کې د وتو لاره ما او عاطفې دواړو ته معلومه نه وه.

په هر حال ما يوه لاره پيداکړه، په کومه چې ځنګله

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته زه راغلی وم .

په هماغه لار بېرته پخوانۍ بيديا ته ووتم.

عاطفه هم راسره وه،هر کله چې عاطفه ځير شوه.

نو هغې دا ځای وپېژانده.

زه يې د لاسه ونيوم او ډير ژر يې د يو سړک سر ته وويستلم.

چې په ډير محدود وخت پکې يو موټر راښکاره شو.

هر کله چې موټر راورسيد.

نو بغير د پُرسانه موټر ودرېد.

او ويې ويل:

چې پورته شې، ځوانانو کابل ته روان يم.

بس ډريور راباندې تيز شو او بغير د کومې خبرې موټر ته هم وختؤ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



حال دا چې يوه روپۍ هم موږ سره نه وه.
په هر حال موږ ويل که هر مشکل کابل کې جوړېده .

بيا به ورسره کابل کې ګورو!
په دې لاره د بې خونده ژوند فکرونو په مخه کړم.

د موټر څخه مې بېرون سر راويستی وو.

د ښارې د ښتې ګرمه هوا مې د مخ په نرم پوستکي لکه د ګرم اور لګيده.
په مړاوو سترګو مې د خپل ژوند هره غلطي سترګو نه ودريده.
دنيلم سره دباران ليده کاته، همداسې د هغې ښکلول، او دهغې سره خندا ګانې، د پوهنتون دور، د ادبياتو پوهنځي نه د يوې ورې غلطۍ په سر خارجيدل.

دا واقعاً چې ډير زور لري.
او بيا د نيلم ورکه او داځل يې پيدا کېدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دامې ځان سره تړون وکړ.
که ژوندی وم، نو د نيلم دغه تره خو ولم.

ژوندی خو رانه ولاکه وګرځي.
په همدې فکرونو کې کابل ته راورسيدم، يو روپۍ هم راسره نه وه.

وقعاً چې د همدغسې خلکو په سر دا دُنيا اباده ده.
د پېسو د نشت خبره چې مې ورته وکړه.

نو د مخې يې راته کړه چې:
د مور شيدې دې شه وراره!

بس په دُعاګانو کې مو ياد ساته دا غټه خبره ده.
په بټوه کې مې د نيلم يو عکس ساتلی وو.
هغه عکس مې ډيرو خلکو ته وخود، خو ټولو به ويل چې دا نجلۍ يې نده ليدلې.
ډير زيات د کابل په ښار کې ورپسې وګرځيدم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو هېڅ مې هم په لاس رانه غلل .
د ماښام خړه خوره شوه، ما مې خپل پلار ته زنګ وکړ.
او د هغه منزل ټوله قيصه مې ورته تېره کړه، چې تر اوسه پکې زه لالهانده او سرګردانه کړېدم.
هغه ويل :
هېڅ غم مکوه بچيه!
زه وس نادر خان ته زنګ وهم، ته د هغه کره ولاړ شه.
سبا به بيا ورپسې وګرځې، امکان لري.
چې ستا د نېکمرغۍ ورځ يې سبا ليکلې وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



***

دا شپه هم تېره شوه.

په سبا يې زه او عاطفه بيا د نيلم په پلټلو پسې ووتلو.

د کابل هره ساحه هر کونج او هره لاره مو ولټوله، خو د نيلم درک ونه لګيد.

په اخر کې ماسره يو وړوکی بيګ وو!

د کابل ښار په ګڼه ګوڼه کې رانه غلو وتختاوه!؟

تر ډيره حده يې رانه منډه ووهله، زه هم ورپسې وم.

نورې ټولې لارې رانه ورکې وې.

په بيګ کې هم هيڅ نه و.

خو هڅې ليونی رانه جوړ شوی وو، اوس مې له ياده وتلي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې ولې مې ورپسې منډې وهلې.
خو خلکو ويل:

لکه د يو پړانګ ورپسې وې.

ډير يې وزغلولم.

اخر يوې تنګې کوسې ته ننوتل!
دلته ډير نفر تيار د کوتکونو سره ولاړ وو.

دومره يې ووهلم، چې وينو مې د رګونو څخه دارې وکړې.
په ځان پوه شوی نه وم، خو په هر حال يو وخت چې مې سترګې وغړولې.

نو د روغتون په رقم يو ځاې کې پروت وم.
زما تش بيګ، احساس لرونکو غلو په لاس کې نيولې وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



او د پوښتنې په بڼه يي خپل سر خوځاوه!
ما ورته وويل :

مينه مې راڅخه ورکه ده.

او بايد چې پېدا يې کړم.
غله هم زما په نيمه خبره پوه شول.

او سينه يې وډبوله.

چې هر ډول همکارۍ ته زما د پاکې مينې د پيداکولو لپاره چمتو دي!
زه پدې روغتون کې د اووه ورځو درد له تېرولو وروسته له دې روغتون څخه رخصت شوم.
غلو ته مې د نيلم عکس وروخود.
هغوي ټول هک حېران شول!
راته يي وويل:

دا خو زمونږ يو مشر دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې د کابل په ښار کې بریدونه کوي.

دا خو د هغه سره ده!

او هغه داهم ویل:

چې دا نجلۍ یې په پیسو اخیستې؟

د دوي د منځ نه یوه وویل:

ممتازه وراره!

د پاکې مینې لپاره د خپل ځان نه هم تیریدای شم!

دا خو مې لا مشر دی.

ټولو په همدې خبره اتفاق وکړ.

چې دا نجلۍ به په هر صورت کې د خپل مشر له ظلمونو څخه نور ژغوري.

او لیونی مجنون به، خپلې تورې لیلی ته رسوي.

ځکه یې یو محفل برابر کړ، پدې محفل کې یې د کابل د رقص انجونې هم راوغوښتې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



او هر ډول ځښناک يې د ځان لپاره برابر کړ.

دا شپه هم له دوي سره تېريده ,خو نور زما زړه هيڅ صبر نکاوه.

ځکه مې دوي ته وويل:

که تاسې راسره ځئ، يا نه

خو ماته ځای وخايې.

زه به په کومه بله ذريعه نيلم ستاسې د مشر له عذاب څخه خلاصه کړم!

دوي ټولو تړون وکړ.

چې ځو!

ځکه نو د دوي د مشر ځای ته روان شو.

دا چې دوي مخکې هم دلته راغلي وو، نو بې پُرسانه ورننوتل.

او خپل مشر ته يې زما او د نيلم په باره کې وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو مشر يې د پيسو غوښتنه وکړه.

دوي چې په جذبه دلته راغلي وو، نو د پيسو د خبرې سره شاته شول.

خو يو نفر يې وويل:

موږ ستاسې لپاره تل د خپل سر ورکولو ته چمتو شوي يو.

او تاسې زموږ په وينا يوه جينۍ نشۍ را خوشې کولای، خو ونشو.

خبره ان تر دې ورسيده.

لږ پاتې وو، چې جنګ جوړ شي.

خو ما کيسه راټوله کړه.

وته ومې ويل:

تاسې چې د نيلم په سر هر څومره بيه غواړۍ.

زه به يې درته پيدا کړم.

ددوي مشر وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوره پنځوس لکه روپۍ مې د نیلم په سر ورکړي، او سل لکه غواړم.
ماسره سل لکه یا لس مېلیونه نه وې!
پلار ته مې زنګ وکړ.
خو هغې هم راته منفي ځواب راکړ.
ځکه د هغې خپله د میاشتې څوارلس زره روپۍ تنخوا وه!
په هر حال پیسې مې ورته پیدا کړې.
او په همدې ورځ!
د غلو دې مشر ته مې ورکړې.
د غلو مشر امر وکړ:
چې نیلم ورته راولۍ.
نیلم راغله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



موږ دواړو، د ډیر زیات وخت وروسته یو بل په
غیږ کې ونیول.
زما هم هغه تنده خړوبه شوه؛

چې په زړه مې د نیلم د حسن بیدیا جوړه کړې وه.
او نیلم هم د ډېر وخت وروسته خوشحاله وه.
دوه عاشق سره د ډېر وخت وروسته یو ځای شول.
خو امکان لري.

د ازل به دا خوښه نه وه:
نیلم زما په غیږ کې نا ببره د شا له خوا په مرمۍ
ولګیده!
😢😢😢😢
او اخیري کلیمې یې دا وویلې.
ژوند د اسمان په غیږ کې لوې نعمت دی.
اور د باران په غیږ کې لوې نعمت دی.

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



تر نعمتونو دې قربان شم ربه.
مرګ د جانان په غیږ کې لوی نعمت دی

(سادات)
لا اله الا الله
محمدٌ الرسول اللهٰ
بس روح یې حق ته وسپاره!
اِنالِله واِنا اِلیهِ راجِعُون!°
پر مخ مې خوَله راغله.
شاګردانو راته اوبه راوړې.
ویل یې:
استاذ جانه!
اوبه وڅښئ.
اوبه مې وڅښلې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



يو څو ژورې- ژورې څاڅانې مې وباسلې.
حکمت په ژړغوني اواز پوښتنه وکړه:

استاذ!

اخر نيلم، دې ظالمانو ولې ووژله
ما ورته وويل:

ما پېسې جعلي ور وړې وې.
تر څو هغوي پرې دوکه کړم.
ځکه يې نيلم وويشته.

نيلم زما په غېږ کې د موسکا نه په ډکه خوله، خپله ارواح د عيزرائيل په لاس خپل رب ته ور ولېږله.
د سترګو تور يې د ځنکدن په سخت درد کې شاته واوړېدل.
زما د هغې ځنکدن نه هېرېږي.
بس بله هيڅ لار مې ونه موندله، او د نيلم د دفن کولو وروسته خپل خوږ يار او د پوهنتون صنفي غفور ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورغلم.
هغه غريب مې د خوشحاله کولو هڅه کوله.
خو زه د خفګان په داسې رنځ اخته شوی وم، چې خوشحاله کيدل مې ناشونی کار وو.
په هر حال غفور راته يوه لاره وخودله.
او راته يې وويل:
چې ته کولای شې، پدې لاره د پوهنتون د مدير څخه خپل غچ واخلې.
ما پريکړه وکړه.
چې په هماغه لاره رهي شم.
او رهي شوم.
دادی ما خپل غچ هم واخيست.
او د دې پوهنتون پوره شل ميينان مې هم سره يوځای کړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



***

تاسې خبر ياست ما خپل غچ څنګه واخيست!؟
د ټولو همدې خبرې ته تلوسه وه!

ځکه مې نو د غچ خبره ورته راواخيسته.
غفور راته وويل:

ممتازه ته به داسې وکړې چې د تا---- استخباراتو سره به شې.
هغوي سره تړون شوی.

چې پوره د يوې مياشتې وروسته به واک ته رسي!
ځکه ته د هغوي سره کار وکړه.

هر کله چې هغوي راغلل ته به د کابل پوهنتون رئېس شې.
هم به دې خپل غچ اخيستی وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



او هم د نيلم غچ .

همداسې وشول.

زه د دی پوهنتون مدير يم.

او مدير سليمان کوم، چې زما د بدبخته کولو هڅه يې کړې وه.

هاغه مې وس د لاس لاندې کار کوي، کوم چې تاسې ورته معاوِن وايې.

د ژوند هر څه د هاغه پورته رب العزت په لاس کې دي.

که چيرې يو انسان ستاسې د بدبخته کولو هڅه وکړي او خداې د هغه په پرتله ستاسې زحمتونو ته وګوري.

نو ضرور به مو د نيکمرغۍ په ډالۍ ونازوي.

وس زه نيلم نلرم.

ځکه مينه هم نلرم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپل عبادت کووم، تر څو د هغه بلې نړۍ په جنت کې د خپلې نيلم سره يو ځل بيا يوځای شم.

مورن پخوا هم يو بل ته انتظار باسلی ؤ.

او اوس هم يو بل ته انتظار کوو!

پای

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د محبت زور ناول

د ناول یوه برخه:

دوه عاشق سره د ډېر وخت وروسته یو ځای شول.
خو امکان لري.

د ازل به دا خوښه نه وه:
نیلم زما په غیږ کې نا ببره د شا له خوا په مرمۍ ولګیده!
😢😢😢😢
او اخیري کلیمې یې دا وویلې.
ژوند د اسمان په غیږ کې لوې نعمت دی.
اور د باران په غیږ کې لوې نعمت دی.
***
تر نعمتونو دې قربان شم ربه.
مرګ د جانان په غیږ کې لوی نعمت دی

(سادات)
لا اله الا الله
محمدٌ الرسول الله
بس روح یې حق ته وسپاره!
اِنالِله واِنا اِلیهِ راجِعُون!°
پر مخ مې خوَله راغله.

شاګردانو راته اوبه راوړې.

ویل یې:

استاذ جانه!

اوبه وڅښی.

لیکوال: سیدادریس سادات



## سید ادریس سادات

# [د محبت زور]

د یوې دردوونکي مینې کیسه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



king.adil.rs@gmail.com
ډیزاین: پخپله لیکوال

(c) ketabton.com: The Digital Library

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**